

# ۳ بعدي شکلونه

| | |
|---|---|
| درجه | دریمه درجه (عمر: له ۱۱ څخه تر ۱۴ کلونو پورې) |
| د اړتیا وړ سرچینې | هر لوبغاړي ته ۲۰ د اورلګيت پلتي او یا هم وړې لښتې<br>د لوبو زغالي<br>داسې کارتونه چې د ۳ بعدي شکلونو نومونه پرې لیکل شوي وي |
| د سرچینو لپاره بدیلې لارې | د لاندې لارښوونو په پام کې نیولو سره، ښوونکی او یا هم مشران کولی شي د لوبو زغالې جوړې کړي.<br>1) ۲ پیالې اوړه<br>2) ۳/۴ پیاله مالګه<br>3) ۲ پیالې ګرمې اوبه<br>4) ۲ قاچوغې غوړ<br><br>لوبغاړي کولی شي ۶ نوټ کارتونه جوړ کړي چې په هر یو باندې یو د ۳ بعدي شکل په یوه وړه ورقه چې ددوی د ورغوي په اندازه وي، رسم کړي. هغوی کولی شي د لاندې ۶ شکلونو څخه چې هر یو وغواړي رسم کړي:<br>1) مکعب مستطیل<br>2) مکعب<br>3) مثلثاتي هرم<br>4) مکعبي هرم<br>5) ۵ ضلعي منشور<br>6) ۶ ضلعي منشور<br>7) مثلثي منشور<br>8) ۵ ضلعي منشور |
| د پوښښ موضوع | شکلونه او اندازه ګیری |
| په نخښه شوي مهارتونه | د ۳ بعدي شکلونو جوړول |
| الهام اخیستنه | Childhood 101 |
| اړین وخت | د لوبې کولو لپاره ۱۵ دقیقې<br>د لوبو د زغالو جوړولو لپاره ۱۵ دقیقې |
| مخکینیو درسونو ته اړتیا | د ۳ بعدي شکلونو ځانګړتیاوې |
| ملاتړ ته اړتیا | منځنی ملاتړ |

د لوبې قوانین:

| | |
|---|---|
| موخه | هر هغه لوبغاړی چې خپل کارتونه او شکلونه تر ټولو لومړی بشپړ کړي، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |
| قوانین | کله چې یو لوبغاړي ۴ کارتونه پورته کړل، هغه ته اجازه نشته چې خپل کارتونه بیرته بدل کړي. |
| مرحلې | لومړی مرحله: ټول هغه کارتونه چې چمتو شوي ول، له یو بل سره ګډ وډ (بې ترتیبه) کړئ او بیا یې د لوبغاړو په منځ کې مخ پر شا باندې کیږدئ.<br><br>دوهمه مرحله: هر لوبغاړي ته د یوه موټې په اندازه د لوبو یوه زغاله ورکړئ. |

| | |
|---|---|
| | دریمه مرحله: هر لوبغاړی د کارټونو د قطار څخه ۴ کارټونه را اوچتوي.<br><br>څلورمه مرحله: لوبغاړي به ۴ هغه شکلونه جوړ کړي چې د هغوی په ورکړل شوو کارټونو باندې رسم شوي دي. دوی باید د لوبو د ورو زغالو څخه په استفادې سره رأسونه جوړ کړي او له پلتو څخه د څنډو په جوړولو کې کار واخلي. (د بیلګې لپاره لاندې انځور وګورئ.)<br><br>پینځمه مرحله: هر هغه لوبغاړی چې وکولای شي تر ټولو لومړی خپل ټول شکلونه جوړ کړي، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |
| انځورونه | د یوه بشپړ ۳ بعدي مربع شکل هرم نمونه<br><br><br> |
| په لوبه کې بدلونونه | د شکل د جوړولو پر ځای، لوبغاړي کولی شي لیست شوي شکلونه رسم کړي او د هغوی ځانګړتیاوې ولیکي. د بیلګې په توګه، یو مکعب شکل دې رسم کړي او ۸ رأسونه او ۱۲ څنډې دې ورسره لیست کړي. |
| غني کوونه | همدا راز، تاسو کولای شی دا لوبه د زاویو د امتحان کولو لپاره وکاروی. د بیلګې په توګه: د لښتو په کارولو سره تاسو کولی شی قائمه زاویه، زاویه منفرجه، او حاده زاویه وښایاست. |

| | |
|---|---|
| ساده کوونه | تاسو کولی شی دا لوبه د ۳ بعدي شکلونو پر ځای د ۲ بعدي شکلونو جوړولو لپاره وکاروی. |
| | لوبغاړي د ۴ کارټونو پر ځای کولی شي ۲ یا ۳ کارټونه را اوچت کړي.<br><br>د یوائې لوبیدلو پرځای، لوبغاړي کولی شي ۲ نفري ګروپونه جوړ کړي. |